مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۱/۰۹

# دا دی باران ودرید

## (د فرید باراني مرينه)

### ځلورمه برخه

«باراني د پسرلني باران په څير
لـږه شيبه وورید او ژر ودرید»

له ځانه وېره کوم

له خپل کاږه وجدانه

له خپل ړانده شهوت نه

او له دي ښار نه چي د تن د آزادی نجوني يي،

په خپل ذهنيت کي ارګاسم ته رسي

له ځانه وېره لرم،

له هغه درد نه چي په ژوند او په شفا بدل شو

له هغه مرګ نه چي د ژوند ښاغلي هيلي يي په لاس کي راکړې...

له وچو غرونو نه چي غېږ راکوي

او د دې ښار د زندانونو تقوا،

او زموږ د کلي فاحشه، چي باکره وخته

(باراني)

باراني ښه زړه را ته تش کړ، خو ما يي په خوب کي په لنډ ډول داسي ولیکل:
« باراني صاحب!
ښه شو چي یو څه دې ځان را وپیژانده. زما دی له اصلي بیوګرافی نه په شعر کي د شعر جوړښت، روان او هدف پیژندنه ډېره په کار ده، بیا هم مننه.
ما ته ډېره مهمه نه ده چي ستا مورنی ژبه فارسي ده که دري او یا هم پښتو، خو په دې ډېر خو شاله یم چي د یوه افغان په توګه په دواړو ژبو د شعر تر برید پوری بر لاسی یي. زه د یوه افغان په ډول په دري ژبه باندی په پوهیدو،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

غريدو، لوستلو او ليکلو باندې وياړم او شکر داسې مې زده کړې چې د ډيری دري ژبو به داسې نه وي زده، دومره کتابونه مې ورباندې لو ستي دي چې ځينې دري ژبي لا په هغو کتابونو خبر هم نه دي.
زما مور او پلار دواړه پښتانه دي، خو ماته يې دري ژبه داسې رازده کړې ده لکه خپله مورنۍ ژبه. زه او زما ميرمن دواړه پښتانه يو، او په وياړ سره مو دري ژبه خپلو ټولو بچو ته ورزده کړې ده. په وياړ سره يې درته ويلای شم:
کله چې په دري ژبه خبرې کوم، څوک تر ډيرو نه پوهيږي چې زه پښتون يم. فکر کوم چې دا به وياړ نه وي چې موږ په کوم قوم پورې اړه لرو، مهمه دا ده چې له دواړو ژبو نه په استفادې سره خپل هيواد وال په حقايقو پوه کړو او څنګه کولای شو چې د خپل زخمي وطن درملنه وکړو.
شعر دې سر کښه او ښيرازه اوسه!

زه سبا د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په دويمه له ډنمارک نه اوکراين ته د لالا ليدلو ته ورځم، که مې کله آنلاين ګير کړې بنډار به سره کوو. تر بيا.»

ده چې بل ځلي د اوکراين او لالا پوښتنه وکړه، نو ما داسې ور ته وليکل:

«همدا اوس له هغه نظامي موزيم نه راغلم چې په افغانستان کې جنګيدلي ټانکونه او چورلکي په کې ولاړې وې، اوښکې مې هم راغلې او له هماغو ټانکونو سره مې عکس هم واخيست.

باراني:

لالا دې فکر کوم په هماغه هېواد کې چې ميشت دی د افغانستان لپاره د سفارت مسوليت لري؟
خدای دې نور په دې وطن غم نه راولي. خو اميد شته چې دا خلک ورو ورو راويښ شي.

آصف بهاند:

هغې چورلکي ته هم وختو او د پيلوټ پر ځای کيناستم، چې څو پر له پسې کلونه يې افغانان وژلي، ته چې داسې يو حالت سره مخ شې څه به کوې. ما خو لکه ليونيانو غونډې ژړا او خندا ګډه کړه.

باراني:

پوهېږم، زه يواځې ژاړم، ژړا مې ډېر ارامويې، له ډېرو انلجيزيک بابو او ډېرو انسانانو نه ژړا ښه ده.

آصف بهاند:

راوبينيدو ته زموږ ستونی وشکيد. لايق په کوم ځای کې ويلي وو:

«زه رڼا پسې روان يم، خو هغه وخت به راشي چې زه نه يم.»

يو ځل يې دننه په افغانستان کې د رسنيو په باب داسې راته وليکل:

باراني:

«... خو بهاند صاحب دا ياد ولره څومره چې دلته په افغانستان کې ځانمرګی، طالب، جهالت او ناپوهي په ناروغی اوښتي هماغومره دا زموږ رسنۍ ناروغي دي.
زه د رسنيو په رښتيا باور نه شم کولی، دروغ خو يې پرېږده.
او تر ډېره حتا دوی په جګړو کې لاس لري.

آصف بهاند:

زه يې په ټول کې يادوم، موږ افغانان هر څه ته د کرکي له کړکۍ ګورو، داسې نه وايو چې ښه شيان هم په دې طبيعت کې شته، په ټولنه کې يو څه مثبت شيان هم پيدا کيږي او که نه وي هم بايد موږ خپله يې ځان ته پيدا کړو ،تر څو به په غمونو کې لوبيږو؟

باراني:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سمه خبره ده... زه هغه وخت خوشاله یم چي دا ملت لمړی موړ وي او بیا پوهه ولري. چي متأسفانه یو هم نه لري.

آصف بهاند:

دروغ خو ډیر خلک وایي او رسنی خو د دروغو ګدامونه دي، څوک لږ څوک ډیر.
یو ځل یي را ته لیکلي و چي شعرونه مي درلیږم، بیا وخت ډیر تیر شو زما هم په یاد نه، خو کله چي د اوکراین له سفر نه راستون شوم، ومي لیدل چي رالیږلي یي دی. ده داسي را ته لیکلي وو:

«سلامونه بهاند صاحب، خپل ځني شعرونه مي در ولیږل هیله ده چي خوښ دې شي. په مینه باراني.

بیرته ما په ځواب کي داسي ورته ولیکل:

باراني صاحب سلامونه او درناوي مي د خپل ځان، کورنی او ټولو دوستانو له پاره ومنه! هیله ده روغ اوسي.
د روان کال د اکتوبر په ۲۲ ما ښام راورسیدم او په ۲۳ ماښام مي ستا ایمل او شعرونه تر سترګو شول. په بیړه مي په ځانګړي ځای کي خوندي کړل، په یوه شاعرانه وخت کي به خامخا سترګي پرې خوږوم، له مهربانی نه دي مننه کوم،
تل د شعر کوربه اوسي.
بیا یو څه موده له فیسبوک نه غایب شو، چي را پیدا شو له یوې ببرې ږیرې سره، ما کوم څه ورته ولیکل او ده هم بي ځوابه پرینښودم. او دا جملي مو په منځ کي تبادله شوې:

آصف بهاند:

نه زما منظور به ډیره سلنه ږیره نه وي، ته هغه خبرې کوي چي ستا شا و خوا خلک دوه سلنه هم نه وربانديپوهیږي. لکه د ستر مولانا افکار. ستا افکار او د مولانا افکار د دغي ټولني د ډیرې سلني له پاره داسي دي لکه د سنايي صاحب دا بیت:

نظم و نثر سنايي پیش نادانان چنانک
پیش کر بربت سرا و پیش کور آیینه دار

باراني:

هو پوی شوم بهاند صاحب... شاید همدا وجه وه چي زمونږ د تصوف او فلسفي سرلارو، د کریم سروش په وینا، یوعمر قاچاقي په بهر ملکونو کي ژوند وکړ او همالته مړه شول.
بهاند صاحب زما په ژوند کي د فلسفي د لوستلو وروسته دومره ستر تحول راغی چي ما یي تصور هم نه شو کولی.
ماته د فلسفي پای د تصوف پیل وو.

آصف بهاند:

په هر صورت زما له پار ستا غیابت او په تیره په کابل ښار کي نه پیدا کیدل، په هیڅ وجه د توجي وړ نه ده، خیر بیا نو بویه چي کله به زما سترګي په کابل جان لګیږي.
بیا چي خبر شوم جرمني ته په زدکړو پسي راغلی، نو پوښتنه مي ورنه وکړه چي اوس په څه لګیا یي ده ولیکل چي:

«جرمنی لولم اوس.»

ما ډاډ ورکړ او ورته ومي لیکل:

«سمه ده
جرمني هم غني ژبه ده، هڅه وکره چي په عادي ډول نه، بلکي په علمي ډول یي زده کړې. په همدې لومړي کال ځان باندې زحمت تیر کړه، بیا وروسته انشا الله هر څه سمیږي.»

بیا یو څه موده غایب شو، چي څنګه راپیدا شو او په فیسبوک کي یي بیا خو ټوټي شعرونه کیښودل، ما او ده بیا داسي دیالوګ تبادله کړ:

آصف بهاند:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

سلامونه!
ته لاړې پسې لاړې، زلفه پسې ګوش کدې، ما ره فراموش کدې
برلین ته چې راغلې پسې برلین کې ورک شوې، داسې خو هم څوک نه کوي.
دا شعرونه دې چې نن آنلاین کړي ټول مې خوښ شول، خو د تخلیق نیټه دې ولې نه ده ور سره لیکلې، دا بیا وروسته ځیرونکو ته ستونزې پیدا کوي او ستا د فکر د لړۍ پر پوهېدا باندې توره پرده غوړوي.
زه هیله کوم چې د هر تخلیق نیټه او حتی ساعت او ځای هم ور سره ولیکل شي.

باراني:

سلامونه بهاند صیب، جوړ په خیر
ولا بهاند صیب د کتابونو په خیرنو عنوانو کې لوېیږم. کله، کله فکر کوم تر کله به مطالعه کوم .
ملامت یم درته،
دا شعرونه مې ټول د مې میاشتې په ۳۱ نیټه لیکلي، اوه که اته نور هم دي ټول مې په یوه شپه لیکلي وو، خو هغه وخت مې نه درلود چې هغه نور ټایپ کړم.
سمه ده حتماً له دې نه وروسته به یې مراعات کړم ان شاء الله.»

وروستی چتنګ مې له فرید باراني سره د ۲۰۱۶ کال د جون په ۲۷ مه نیټه تر سره شوی و. او اوس دا دی بیا غایب شو، خو دا ځل د تل له پاره او زه یې د ویر پر تغر داسې په سرو سترګو کینولم چې هک حیران یم، هیڅ له خولې ایستی نه شم، د ککرۍ په کومزه کې مې ګڼې پوښتنې بنکته پورته په ځواب پسې منډې وهي.

د فرید باراني له پښتو شعرونه سره تر ډېره پورې ځکه اشنا یم چې ده خپله خپل پښتو شعرونه بنایي تر ټولو نورو دوستانو ډېر زما په پته رالیږلي وي او هم یې په میډیا کې تر دري شعرونو، پښتو دا ډېر خپرول. نو ځکه یې زه د دري شعرونو بیلګې او پر هغو بحث نورو هغو دوستانو ته پرېږدم چې د باراني دري شعرونه یې ډېر له نظره تیر شوي.
د فرید باراني د پښتو شعر په باب مې د ښاغلي محمد آقا ذکي دا لاندې نظر چیرې لوستی و او سمدلاسه مې خوندي کړ، خو له بده شامته چې پته مې یې نه ده لیکلې. د ښاغلي ذکي دا نظر زما له خوا هم د تایید وړ دی:
«فرتوری از چهرهٔ تابناک فرید بارانی، شاعری که لطافت طبع و زیبایی افکارش در حوزهٔ شعر پشتو افق‌های تازه‌یی را نوید می‌دهد!
امیدوارم تا همیشه دنیا دنیا شادکامی پیشرو داشته باشی...»
فرید باراني په دې کم عمر کې د لویو خیالاتو او ژورو مالوماتو درلودونکی و. د یو لوی استاد په څیر، پر داسې موضوعاتو غږیده چې د ډیرو خلکو له سویې او ذهن نه لوړه خبره وه، دا اعلان یې یوه بیلګه ده:




شمال د باغ له ځانګو، ځانګو ځنې
زما د هیلو تار، تار شوي ګریوانونه راوړل
بازار زما د افسانو له لاسه خوب نه لري،
ته وا د مرګ په دریابونو کې نڅا کومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

ته وا ورکيږمه نور

ته وا اروا مي نور د باغ له پاڼي، پاڼي تبسم ځني کيږدی ټولوي

سړکال پروسږ نه دی،

چي لمر د غرونو په کنډو ويده کم، بيرته راشم

سړکال پروسږ نه دی،

چي مي د کينې پوښتنې درد ارام شي

سړکال پروسږ نه دی،

چي راسته لاس دي پر تندي راکيږدي،

او در ته ووايم چي ښه يمه نور.

د ځلورمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ